آصف بهاند ۲۰۱۷/۱۰/۲۵

# ستا پـه لاس جوړ شوي،

## دې ځوندي ته مې ته وګوره

يـو ځـل خـو دې ګـونځو، دې تندي ته مې ته وګوره
تـه پـه زړه کـافـر، د يـار ګوندي تـه مې ته وګوره

بيا مې لاس در واخله، لاس کېږ ونيسه، در ياد يې کړه
لـړ يي در پـه ړره کـړه، زړه بندي ته مې ته وګوره

تـل يـې ځـړومـه د واسکټ پـه چـپه ځـنـډه کې
ستـا پـه لاس جوړ شوي، دې ځوندي ته مې ته وګوره

لاړې زمـانـې او ډيـر کـلـونـه سـره واوښـتـل
تـــه لا ځـوانـه تـانـده، اوس پيري ته مې ته وګوره

غم جفا ځوان ګرځي لاس يو کړي زه يې زوړ کړمه
دوی را نـوي کـيـږي، اوس پـيـري ته مې ته وګوره

۲۰۱۷/۱۰/۱۰
هیدرسلیف
ډنمارک




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ